


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دېوالونو ته لګيا يم

(د هائيکوګانو ټولګه)

محمد الياس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول حقوق د لیکوال په حق کښې دي


د کتاب نوم : دېوالونو ته لګیا یم (د هائیکوګانو ټولګه)

ISBN-978-969-23975-0-6

شاعر : محمد الیاس

کمپوزنګ : وقارمحمدوقار او لیکوال ( په شریکه )

دَ چاپ کال : ۲۰۲۴ء

تعداد : پنځه سوه

پروف ریډنګ : ارشد نادان (ایس ایس)

وقارمحمدوقار (ایم فِل سکالر)

بیعه : ۵۰۰ روپۍ

تماس : 03462860464

چاپ خانه : ګران خپرندویه ټولنه


<u>د موندلو درکونه</u>

- ✓ پلورنځاے پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون
- ✓ طوطه کان ضلع ملاکنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تړون

د ګران ملګري او د پښتو ژبې استاد ، پیاوړي غزلګو ، نعت ګو ،
افسانه نګار، محقق، نقاد ، فولکلوریسټ، مترجم او د ډېرو
کتابونو خالق

## پروفېسر ډاکټر علي خېل دریاب

په نوم، چا چې زما د لیک د ستائینې سره سره وخت په وخت زما
رهنمائي هم کړې ده،داد او ډاډ ئې هم راکړے دے



(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

خپلو ګرانو قدردانو قامپرسته او پښتونپاله ملګرو

۱- غلام سخي

۲- ملک سپد زمان

۳ - ډاکټر فخرالدين

۴ - ډاکټر رياض احمد

۵ - ډاکټر رفيق يوسفزي

۶ - لياقت علي

۷ - ګل روز خان

۸ - مطهرزېب خوږ

۹ - منظوراحمد يوسفزي

او د دمام پښتو ادبي بهير ټولو ملګرو ته د خصوصي ډالۍ په توګه، چا چې په مسافرۍ کښې زما شاعري اورېدلې ده، مينه او ډاډ ئې راکړے دے او زۀ ئې نور ليک ته هڅولے يم



(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ چې پښتنو ته داسې وايمه
پاڅئ! د خپل حق د پاره ودرېږئ
دا جوړ دېوالونو ته لګيا يمه

محمد الياس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سندریزو فکرونو او د رڼاګانو د رنګونو شاعري

کله چې ګران محمد الیاس د رڼاګانو رنګونه او سندریز فکرونه د خپلې خوږې پښتو په شال کښې ناوې کړي وړاندې کړل نو د خوږې پښتو د خدمت تمغه ورته ولګېده ولې د ژبې حالت زار او د قام بېزاري د پښتو ژبې د ټولو لیکوالو د مخې ده او داسې ښکاري چې د موجوده مجموعې نوم "دېوالونو ته لګیا یم" ئې دغه پس منظر لري. خو مایوسه نۀ دے او هر د فکر و نظر خاوند مایوسه کېدے نۀ شي. په دې هغه ژوند د خپل فکر په بنیاد ګوري او د ژوند سفرد خپل نظر په لارښودنه کوي او لا چې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال د سمندرونو لامبوزن هم وي بيا خو د ژوند د هر طوفان او حادثې د مخ کېدو توان لري. هر څو کۀ ټپه وائي چې:

ـــه

د دريابونو لامبوزن ووم
نصيب مې کم شو د لختي اوبۀ مې وړينه

ولې ليکوال د نصيبونو په ځاے په خپلو جذبو او حوصلو يقين ساتي.

ځـــان کـــۀ څـــۀ مـــرام تـــه رســـول غـــواړئ
چرتـــه د شـــپېتۀ نـــه پـــس ئـــې پـــرې نـــۀ ږدئ
ژونـــد ګـــورې تـــر مرګـــه پـــورې منـــده ده

چـــې لاس و پښـــې وهـــے نـــو خـــورې بـــه ډوډۍ
او کنـــه تـــۀ وې چـــې قســـمت خـــراب دے
بيـــا کـــۀ د لـــوږې نـــه مـــړ کېـــږې ښـــۀ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلے الياس زما د علاقې دے او يا زۀ د دۀ د علاقې يم او دا هم يو اتفاق دے چې دواړه د علاقې نه بهر يو خو دې ډېر بهر دے يعنې "سات سمندر پار" اوزۀ خو په خپل ګل ګل پېښور کښې يم چې زړۀ مې وشي نو ورغر وهم ولې بيا هم د سوات د سيند د غاړې نه لرې يو ـ زمونږ د دواړو کلي د سوات د سيند په غاړه دي او د سوات د سيند روماني غاړه چې د زرګونو کلونو د تهذيب امين ده ـ زمونږ د دواړو د رومان يادونه پرې هم چپې چپې خاپې پراتۀ دي ـ

زۀ د تانړې يم او الياس صېب د طوطه کان او د طوطه کان سره د نعيم راهي نوم داسې پېوست دے چې لازم او ملزوم دي ـ ولې هغه هم د سيند د دغه ګلورينې غاړې نه د عربستان شګو ته رسېدلے دے ـ ښه نو خبره د سوات د سيند د دغه روماني غاړې روانه وه نو په دغه رنګينه فضا کښې چې څنګ زۀ عالم شعور ته راغلے يم داسې الياس صېب هم خپلې ساګانې اخستې دي او په خپل فن کښې ئې روح اچولے دے ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلے الیاس صېب دا وخت د خپلې څلورمې شعري ټولګې سره حاضر دے او دا زۀ چې څۀ لیکم نو سفارش ئې نۀ کوم خو زما د دې نا لیدلي محترم جانان ملګري دا فکري پرواز دا حق ضرورلري چې ولوستلے شي په دې چې دا شاعري صرف د دۀ نۀ ده اګر چې دۀ لیکلې ده یا دۀ د لیک جامه وراغوستې ده خو دا زمونږ شاعري ده زمونږ خبرې دي او زمونږ په چاپېرچل کښې چې څۀ خبرې دي نو ښه په ډاډه ئې بیان کړې دي. په چا ئې وچ نۀ دي خوړلي بلکې د دې معاشرې هغه ټول کردارونه ئې په خوند خوند په ډاګه کړې دي چې ستونزې ئې زېږولې دي او د قامي ترقۍ په رفتار کښې او په فکري ارتقاء کښې خنډوخار جوړېږي او یا جوړ شوي دي. لکه دا څو هائیکو ئې ستاسو سره شریکوم او نور د سر امن غواړم.

په دغـــه بحـــث کښــې یـــو داســـې ووې
زمـــونږ کارونـــه بـــه دا هلـــه کېـــږي
دوي لـــه باچـــا چـــې حولـــدار وګـــورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـــه

چــې د اســـلام پـــه نـــوم ووټونـــه اخلـــي
د دوي قيصـــه راتـــه څـــۀ داســـې ښـــکاري
لکـــه پيشـــو چـــې مـــږه خـــدا ے لـــه نيســـي

ـــه

ډېـــر حکايـــات ئـــې تـــاؤ راتـــاؤ کـــړه ورتـــه
مـــلا وې دا مـــــړے ولـــــي ســــــړے ؤ
مـــا وې تپـــوس وکـــړئ مالـــدار خـــو نـــۀ ؤ

ـــه

پـــه زوږ او نـــوي باچـــا بحـــث کېـــدو
پکښـــې زمـــا نـــه هـــم پوښـــتنه وشـــوه
مـــا وې دا دواړه د يـــو خـــرۀ غوږونـــه

د خپل چاپېرچل د نفسياتي ماحول تربګني،بغض،حسد او بيا د پښتنو موجوده صورتِ حال دا ټول د الياس صېب په نظر کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او ښهٔ د زړهٔ د اخلاصه پرې خپل اظهار کوي چې د يو رښتوني شاعر او قلمکار ذمه واري پوره کوي.

وچ پـــــه ناحقـــــه يـــــو بـــــل اوزوروي
د پښـــــتون دغـــــه ســـــوچ کـــــهٔ دغســـــې ؤ
د مخکښـــې تلـــو ګمـــان دې نـــهٔ کـــوي بيـــا
ـــه
د خـــــدا ے د نـــــامې ځـــــار شـــــمه
ځـــــهٔ نـــــوې شـــــان خبـــــره ده
پښـــــتون يمـــــه او ژونـــــد کـــــوؤم

دا خو د الياس صېب د فکر يو اجمالي خاکه ده .د دې کتاب په لړمون کښې د موصوف د خور وور فکر يو درنه خزانه پرته ده خو راسپړدل غواړي او دغه راسپړدل ، لوستل دي چې ضروري دي او ځنګ چې مې مخکښې وئيلي دي چې دا زمونږ خبرې دي نو ځکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فني توګه دا ټول کتاب د هائيکو دے او هائيکو اوس يو معروف صنف دے چې ډېر ليکوال پکښې د خپل فکر د ګلدرو خوشبوګانې رانغاړي . دوي په دې هائيکو کښې د تجربو بلکې کۀ اجتهاد ټکے سم وي نو هغه وپکاروئ ، يو داسې کوشش کړے دے چې په فني چوکاټ کښې ئې ورله پوره بدلون راوستے دے . مسلسل هائيکو ، غزليه هائيکو او نظميه هائيکو ئې په دې مجموعه کښې د خپلو تخليقي مرحلو نه راتېر کړې دي . نقادان به دې ته څنګه ګوري خو زما خيال دے ، د دې باوجود چې دا يو ښه کوشش دے او نوي والي طرف ته ګامونه دي ولې يو خو مونږ د هائيکو د صنف بنيادونه پخوا نړولي دي او خپله هائيکو مو جوړه کړې ده او اوس کۀ دا رواج کېږي نو زمونږ نه پکښې د نظم صنف ځي . په دې چې دا به درې درې مصرې وي ولې د نظم د مصرعو خو هم څۀ د پابندۍ خبره نشته نو نقادان به دا خبره په نظر کښې نيسي . بهر حال دا يو کوشش دے او په راروان وخت کښې به پرې ښۀ فېصله کېدے شي . البته چې په کومه هائيکو کښې ئې د "ياګانو" خبره کړې ده نو دغه د ژبې د پرمختګ د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ضروري عمل دے او وو او هغه مشران چې په دغه کار کښې شامل وو د داد او ستائینې حق لري ـ نور کتاب ستاسو په وړاندې دے او یقین لرم چې دا به تاسو اولولئ او زمونږ د دې مسافر جانان ملګري د خیالاتو نه به استفاده وکړئ ـ

په درناوي
ډاکټر شېر زمان سیماب
پښتو اکېډمي
پېښور یونیورسټي
۵ دسمبر ۲۰۲۳ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د محمد الیاس هائیکو شاعري

محمد الیاس ته په دې حواله سیل کړے شاعر وایم چې په مرچنټ نیوي کښې د کپتان په حېثیت په ملکونو ملکونو او د هغوي په سمندرونو ګرځي ـ ژوند ئې اوږدې سېل ګرۍ او مسافرۍ سره تړلے دے خو زړۀ او ذهن ئې د خپلې خاورې سره داسې تړلے دے چې هائیکو ئې د رومان او جمال او د فطري ښائستونو په ځائے د وطن سیاسي او سماجي بدرنګو ته وقف کړې ده ـ پښتانۀ شاعران چې نورې دنیا کښې وګرځي او د هغه ملکونو سیاسي سماجي نظام او د اقوامو اخلاقي معیار د نزدې نه وګوري او د هغه برخه هم وګرځي نو د خپل ملک حکومتي نظام، د حاکمانو په حاکمانه کردار او د اولس په سماجي رویو ډېرې باریک بینۍ سره غور و فکر کوي او په رد عمل کښې ئې چې کوم ذهني کېفیت راپېدا کېږي نو د هغۀ اظهار په شاعرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېږ په کولو مجبور شي ـ په دغه اظهار کښې ئې غصه، ملامتيا ، افسوس او حسرت هر څۀ شامل وي او دا هر څۀ ئې د خپل وطن او اولس سره د مينې دلالت کوي ـ د خپل ملک او قوم په ذهني، اخلاقي، سماجي او سياسي پسماندګۍ ئې زړۀ او ذهن ته يو درد رسي ـ محمد الياس هم د دغه درد نه تېرېږي او د دې شاعرانه اظهار ئې د هائيکو صنف کښې کړے دے ـ د هغه د شاعرۍ درې مجموعې مخکښې چاپ دي چې په غزلونو او نظمونو مشتمل دي او دا مجموعه ئې هائيکو ته مختص کړې ده

هائيکو ئې په يولسو چپو کښې ليکلې ده او پښتو کښې دغه هيئت محبوب شوے او مقبول شوے دے ـ د پينځه اووۀ پينځه چپو هائيکو پښتو کښې ونۀ چلېده ـ په دې ډېر هيئتي بحثونه شوې دي او نور به هم کېږي خو د جاپان د موجوده وخت د هائيکو شاعره هائيجن چې د هائيکو د يوې مجلې "کاندون" مديره هم ده د هائيکو د هيئت او مزاج باره کښې کومه تازه تنقيدي رائې په مخه راغلې ده هغه د سابقه ټولو رايو خلاصه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هائيجن دغه تنقيدي رائې د افغانستان اديب محمد نبي تدبير هغې سره جاپان کښې يو ملاقات کښې د هغې نه نوټ کړې او خپل مضمون کښې ئې ليکلې ده ـ محمد نبي تدبير ليکي"هائيجن د هائيکو د څپو يا سيلابونو په قېد کښې رابندول او موسم له قېده خلاصول يوه تېروتنه بولي" ظاهره ده چې هغه د پېنځه اووۀ پېنځه پابندي ضروري نۀ ګڼي او د موسمونو يا د فطرت بيان پکښې ضروري ګڼي ـ

محمد الياس د پابند هيئت په غلط فهمۍ کښې نۀ دے ګېر شوے او د يولسو څپو ازاده هائيکو ئې ليکلې ده خو د فطرت ښکلاګانو او اميجري ته ئې زياته تخليقي توجه نۀ ده کړې ـ د تخيل په ځائے ئې د تفکر او تفکر کښې ئې په ژوند د طنز او تنقيد اسلوب اختيار کړے دے ـ احساسات او جذبات ئې د ژوند د حقيقتونو عکاسي کوي ـ مينه ،جمال او فطري رنګونه ئې ځائے په ځائے ښودلي دي چې د هائيکو اصل مزاج ته هم نزدې دي او د تازګۍ احساس هم راکوي لکه دا هائيکو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سمندر کښې د سفر په مهال
کۀ چرته اوليدے شي تورې مرغۍ
پوهه شه مخکښې به موسم خراب وي

او د جمال رنګونه او خوندونه داسې بيانوي:

سم د رنګونو تماشې جوړې شي
په ژبه هم زما سپرلے غوندې شي
چې ستا غزل غزل ځواني ياده کړم

او د خپل وطن د ژوند يو کليوال عکس داسې ښائي:

تا ترې تنُور له ډکي خنګه مات کړۀ
پتې ته شپول په دې غرض کۀمه
چې ځناور پرې بلوڅه نۀ شي کوے

محمد الياس په يوه موضوع مسلسل هائيکوګانې هم ليکلي دي او د "نظميه هائيکو" عنوان ئې ورته ورکړے دے ۔ پۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي کښې قافيه بدلېږي ـ دغسې بله تجربه ئې په يوه قافيه رديف کښې د مسلسل هائيکو ليکلو کړې ده او دې ته ئې" غزليه هائيکو" عنوان ورکړے دے ـ زۀ پوهېږم چې هائيکو د خپل مختصر فني ساخت په لحاظ يو مکمل مختصر نظم دے ـ دغه فني تجربه محمد الياس په ړومبي ځل ۲۰۰۸ کښې خپله شعري مجموعه" شور مې د قلم په ژبه راوله" کښې کړې ده ـ ورپسې چې موٰسی ګل ګل خپل کتاب" د حکمت رازونه" مطبوعه ۲۰۱۹ء کښې هم مسلسل هائيکو وليکلې نو ما پرې سريزه کښې ليکلي دي چې د مسلسل نظم په صورت کښې هائيکو يو بيل مکمل نظم نۀ پاتې کېږي ـ په يوه موضوع هائيکو ګانې ليکل او يوه لړۍ کښې اچؤل او د نظم يا غزل صورت ورته ورکؤل ددې مختصر نظم ضرورت نۀ دے خو کۀ شاعر په خپل تخليقي کيف کښې دغسې تجربې نه تېر شي نو قدغن پرې نۀ شي لګېدے ـ کۀ زۀ دا ووايم چې هره هائيکو کښې يو مکمل خيال وي او دا په يوه لړۍ کښې اچولو ته ضرورت نشته نو دا جواز به وړاندې کړے شي چې د غزل هر شعر هم يو بيل خيال لري او د بيلو بيلو خيالاتو اشعار د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو غزل صورت مومي ـ زۀ وایم هلته داسې تسلسل د غزل ضرورت دے خو هائیکو ته د تسلسل ضرورت نشته ـ اوس چې محمد الیاس مسلسل نظمیه او غزلیه هائیکو ګانې لیکلې دي نو د دې یو لنډ غوندې روایت هم موجود دے ـ اردو کښې د مسلسل هائیکو لیکلو تجربه اقبال حېدر کړې ده او داسې هائیکوګانې ئې مجله" هائیکو انټرنیشنل کراچی" کښې چاپ دي ـ د هغه تجربه دوه فني صورتونه لري ـ یو قسم هائیکو ئې داسې مسلسل لیکلي دي چې خیال پکښې بېل بېل دے خو قافیه پکښې یوه چلېږي ـ لکه:

ساون ہے اس پار

پتے پیلے پیلے ہیں

سبز ہوئی دیوار

او بیا دغه قافیه کښې ئې ورسره نورې لس اتۀ هائیکو لیکلي دي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بادل کے اس پار

اک معصوم پرندے سے

بچھڑ گئی ہے ڈار

په دې مسلسل هائیکو کښې قافیه یوه ده ګني هره هائیکو ځان له یو مکمل نظم دے ـ دوېم صورت کښې ئې داسې هائیکو لیکلې دي چې د هرې هائیکو وړومبۍ مصرع یو شان ده او نور خیال پکښې مختلف دے ـ د یولسو چپو هیئت پاکستان سره سره افغانستان کښې هم مستعمل دے ـ ټولې مجموعې هم دغه هیئت کښې چاپ شوې دي چې شمېر ئې شلو ته رسي ـ د نظم او غزل په مجموعو کښې هم ډېرو شاعرانو خپلې هائیکوګانې شامل کړې دي ـ د هائیکو صنف پښتو کښې کم و زیات د شلو پښتو کالو سفر وکړو او په دې ټول دور کښې هائیکو لیکلې شوې ده او نوي نوي شاعران ورته توجه کوي ـ وخت سره سره دا غلط فهمي هم ختمه شوه چې هائیکو د مزاح صنف دے ـ هائیکو یو خیال او تاثر د لب و لهجې تازګۍ او بې ساختګۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره په درېؤ مصرعو کښې د حیصارؤلو فن دے ـ محمد الیاس الیاس تخلیقي قوت نه توقع لرم چې د دنیا ملکونو د سیل په دوران کښې به د نوؤ نوؤ فطري او ثقافتي منظرونو مصورانه شاعري هم هائیکو کښې پیش کوي چې لوستونکي د نوي او تازه ښکلا نه هم خوندونه واخلي ـ روغ صحت او د تخلیقي توان د نورې زیاتې ښېرازۍ د پاره ئې دعا ګو یم ـ

اسماعیل ګوهر

۲۲ دسمبر ۲۰۲۳ بفه هزاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې خبرې

هسې خو دغه کتاب ټولې زما خبرې دي خو دلته د خپلو خبرو د عنوان لاندې د ليکلو ضرورت ځکه محسوسوم چې په پښتو ژبه کښې د هائيکو په اړه لوستونکيو ته د خپلې پوهې مطابق لږ ډېر معلومات ورکړم او هغه دا چې هائيکو په اصل کښې د روايتي جاپانۍ شاعرۍ يو اهم صنف دے کوم چې د يو خيال مطابق په شپاړلسمه پېړۍ کښې راڅرګنده شوې وه د جاپان شاعرانو به هائيکو په ۵-۷-۵ بحرونو کښې ليکله. د شاعرۍ دغه صنف د جاپان نه پښتو ژبې ته د اردو او انګريزۍ په لار د شلمې پېړۍ په اخيره کښې راغلے دے. پښتو ادب کښې چرته چې د هائيکو د وړومبي کتاب خبره راشي نو ذهن ته زر د ډاکټر اسماعيل ګوهر نامه راشي، چا چې پښتو ژبه کښې د هائيکو وړومبے کتاب د "مسکا" په نوم ليکلے دے کوم چې په ۱۹۹۲ کښې چاپ شوے ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هائيکو د کتابونو د چاپ دغه سلسله تر "دېوالونو ته لګيا يم" پورې راورسېده او دغسې به روانه وي.

څنګه چې ما مخکښې ووئيل چې جاپانيانو هائيکو په ۵-۷-۵ بحرونو کښې ليکلې وه خو محققين وائي چې وروستو هغوي هم هائيکو د دغه قېد نه خلاصه کړه او په ازاد بحر کښې ئې هائيکو ليکل شروع کړه. هائيکو چې کله پښتو ژبې ته راغله نو د پښتو ژبې د هائيکو ليکوالانو د ۵-۷-۵ په بحرونو کښې دومره ليک ونۀ کړې شو څومره هائيکوګانې چې په ازاد بحر کښې وليکلې شوې او خوښې کړې شوې او د هغې غټ ثبوت په پښتو ژبه کښې د ازادې هائيکو چاپ شوي کتابونه دي چې شمار ئې تقريبا شلو ته رسېدلې دے او نن چې کوم کتاب ستاسو په لاس کښې دے دا هم د دغه لړۍ يوه کړۍ ده. بل اړخ ته د ۵-۷-۵ په بحر کښې لا تر اوسه د کتابونو د چاپ کولو رجحان د نشت برابر دے او د هغې غټه وجه دا ده چې په دومره لنډ بحر کښې نۀ خو خيال پوره پوره ځائېدې شي او نۀ ئې په مصرعو کښې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوند وي کوم چې پکار وي ـ غرض مې دا دے چې کۀ په پښتو کښې د اوږد بحر هائيکو اوس مقبوله شوې ده نو پکار ده چې په دغه اړۀ د بې ځايه تنقيد نه ډډه وشي ـ

هائيکو په بنيادي توګه د شاعرۍ يو داسې صنف دے چې په درېو مصرعو کښې يو مکمل پېغام بيانوي او کۀ چرې دغه خاصيت نۀ لري نو بيا هائيکو نۀ ده اګر کۀ هغه زما په خپله شاعرۍ کښې ولې نۀ وي، دوېمه خبره دا ده چې کۀ هائيکو کښې د شاعرۍ خواږه نۀ وي نو بيا هم هائيکو نۀ ده بلکې نثر دے او دغه کمزوري ما د ۵-۷-۵ بحر د هائيکو ګانو په لوستو کښې ډېره ليدلې ده ـ زما په خيال کۀ په هائيکو کښې د شعر خوند، آهنګ، رواني، سُر نۀ وي نو ليکل نۀ دي پکار ـ د دې سره پښتو ادب ته د زيان رسېدو خطره ده ـ

پښتو کښې د هائيکو ليک اوس دومره ډېر شوے دے چې ما غوندې يو ادنٰی ليکوال پکښې هم مختلفې تجربې کړې دي لکه "مسلسل هائيکو" کوم چې ما په خپل وړومبي کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



"شور مې د قلم په ژبه راوله" کښې په ۲۰۰۸ء کښې چاپ کړې وه دلته ئې بیا په دې وجه شاملوؤم چې دا ټول کتاب د هائیکوګانو دے. په دې کتاب کښې ما هغه هائیکوګانې هم شاملې کړې دي کومې چې زما د شاعرۍ په کتابونو د "رڼا رنګونه" او "فکر مې سندره شوه" کښې چاپ شوې دي.

د مسلسل هائیکو نه علاوه ما په خپل دې کتاب کښې غزلیه او نظمیه هائیکوګانې هم لیکلې دي کومې چې زما په خیال د دې نه وړاندې نۀ دي لیکلې شوي او یا زما د نظر نه نۀ دي تېرې شوې. اګر کۀ دغه لیک ډېر کم شوے دے خو زۀ دا هیله هم لرم چې د هائیکو شاعران به په راتلونکي وخت کښې دغه غزلیه او نظمیه هائیکوګانو لیکلو ته پام لرنه وکړي او ډېر څۀ به پکښې ولیکي ځکه چې په غزلیه او نظمیه هائیکوګانو کښې د شاعرۍ خوند لا زیاتېږي او هغه ځکه چې په دغه نوي صنف کښې د هرې هائیکو درېمه مصرع په یو شان قافیه او ردیف کښې وي. کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د پښتو د روايتي شاعرۍ په غزلو او نظمونو کښې هم ليدې شي۔

د هائيکو په حقله بله ضروري خبره دا ده چې زمونږ د معاشرې د اکثريت دا خيال دے چې ګني هائيکو د مزاح نوم دے او يا هائيکو د مزاح او ټوقو ټقالو نه بغېر نا مکمله ده خو زما په خيال داسې نۀ ده بلکې کۀ ليکوال وغواړي نو په هائيکو کښې اولس ته سنجيده پېغام هم رسولے شي او د ظلم جبر د مخ نيوي، د قامي ستونزو او د پښتون قوم د بيدارۍ په اړۀ پکښې هغه څۀ بيانولې شي کوم څۀ چې نثر ليکونکي په پوره افسانه يا ناول کښې بيانوي۔ زما د دغې خبرې ثبوت زما په کتاب کښې شاملې سنجيده هائيکوګانې دي۔

د پښتو ژبې د سترو استاذانو او ځيني پوهانو دا خيال دے چې ګني د هائيکو او يا د نظميه هائيکو او غزليه هائيکوګانو سره به نظم ته نقصان ورسي خو زما خيال د دغه سوچ برعکس دے ځکه چې دا د ليکوال پورې منحصره ده چې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رجحان کوم اړخ ته دے؟ اوس کۀ د چا رجحان په نظم کښې مخمس ،مسدس آزاد او یا چرته بل څۀ ته وي نو هغه به ولې هائیکو او بیا نظمیه هائیکو یا غزلیه هائیکو لیکي او کۀ داسې کوي نو بیا به مونږ داسې ووایو چې دغه نوې قسم هائیکو زیاته خوندوره او زړۀ راښکونکې ده ځکه خو زیات لیکلې کېږي۔

د هائیکو په حقله کۀ نور لیکل کوم نو خبره رانه اوږدېږي خو زۀ به دومره قدرې ووېم چې پښتنې هائیکو اوس د خپاړو په ځاے قدمونه اخستې دي بلکې کۀ زۀ دا ووایم چې هائیکو په پښتنه خاوره ګرځېده څۀ چې منډې شروع کړې دي نو بې ځایه به نۀ وي۔ الله دې وکړي چې هائیکو زمونږ ژبې له داسې ترقي ورکړي لکه جاپانیانو ته چې په سائینس او ټیکنالوجي کښې مېلاو شوې ده۔

په اخر کښې زۀ د ډاکټر اسماعیل ګوهر صېب او د ډاکټر شېرزمان سیماب صېب د زړۀ د تله شکریه ادا کوم چې د ډېرو مصروفیاتو باوجود ئې د چاپ نه مخکښې دا کتاب اولوستو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې ګورې خبرې ئې پرې د سریزې په شکل کښې ولیکلې او د کتاب ښکلا ئې پرې زیاته کړه ـ زه د ګران کشر وقارمحمدوقار او ښاغلي ارشد نادان صېب هم مننه کوم چې د کتاب کمپوزنګ او څیر کتنه کښې یې راسره کومک کړې دے -

د نور بحث په ځاے به ښه دا وي چې زۀ د خپل هائیکو د دې کتاب او لوستونکو ترمېنځه ووځم او د خپل کتاب د معیار ، فني اړخونو او د دغه کتاب د هائیکوګانو د معیار بحث ګرانو لوستونکو ته پرېږدم چې هغوي د کتاب د معیار په حقله څۀ فېصله کوي!!! د الله په امان

په ډېره مینه

محمد الیاس دمام سعودي عرب

۲۳ دسمبر ۲۰۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حمدیه هائیکو ګانې

ذات کښې یکتا دے عقیده ده زما
خو چې خبره د صفاتو راشي
په هر اړخ راته جانان لیده شي

ورته ظاهر باطن هما دي افشان
داسې یو ذات زما تخلیق کړے دے
هغه په هر څۀ کښې عیان لیده شي

خدایه مفهوم دے د نبي ﷺ د وینا
ښکاري چې تۀ مې ربه وپېژندے
دا چې په هر څۀ کښې مې ځان لیده شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــوري تيـــارې د شـــپې نـــه اوتختـــوي
لکـــه د نـــور پـــه سـپين ســـحر کښــې راشــي
کلـــه رحـــيم کلـــه رحمٰـــن ليـــده شـــې

ســـتا نـــه د تيښـــتې لاره نشـــته خدايـــه
ښـــکاري چـــې ده هـــم سرکشـــي کـــړي وه
ډوب چـــې د غـــره پـــه ســر کنعــان ليـده شــې

کـــه پـــه عـــمل و ے راتـــه ګـرانـــه بـــه و ه
دغـــه هـــم ستـــا د عـنـــايت پـــه سبـــب
دا چـــې الیـــاس کښـــې څـۀ ایمـان لیـده شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتيه هائيکو ګانې

په مدينه کښې دومره خوند به نۀ ؤ
دا چې رونق دے دغه ستا برکت
دنيا به نۀ وه کۀ تۀ نۀ وے نبيﷺ

ښه وه چې تا وحدانيت بيان کړو
د خدا ے په کور دننه شرک کېدلو
دا سلسله به همېشه وے نبيﷺ

ستا په راتګ شوه منوره دنيا
لوښه د شرمه به ژوندۍ ښخېدې
خدا ے خبر څو به دا تياره وے نبيﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر دې کـۀ لـرې وې د خپـل وطـن نـه
ستا د روضې پـه خوا کښې ژوند وې زما
ځـو مره بـه ښـۀ ځـو مره بـه ښـۀ وې نـبي ﷺ

يـو چې مې هلـته شـفاعت نصـيب شـي
بـل چې کـوثر هـم ستـا د لاسـو شې نـو
زړۀ بـه مې ډېـر پـه حوصلـه وي نـبي ﷺ

اخـلاق دي ډېـر ښـۀ وو الله مـې وائـې
محفـل کښې ټولـو نـه بـه لـوړ ليـده شـوې
ډک د کـمالـه معجـزه وې نبـي ﷺ

دې کښې ګناه نشـته ارمـان دې زمـا
خيـال کښې الياس هـم چرتـه يـو ځلـې
لکـه حسينؓ دې پـه اوږه وې نـبي ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

داسې سرعام به ترهګر نه وو
مُلا کۀ د ممبر نه داسې وېلے وے
ظلم د ے ګناه ده د انسان وژل

## هائیکو

ښار ناپرسان دې نو
ما هم پوزه توره کړه
وېله مې اینګر شومه

## هائیکو

پرون په غبرګو جنازو ولاړ ووم
خوا کښې د کس نه مې تپوس وکړو
وېل ئې د رونړو په ډېران جنګ ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظمیه هائیکو

(سیاست)

وګوره ګراني شوله
دا به چرته نه وي ما
د خپل باچا په لوبو کښې

ملک ئې دړې وړې کړو
تل به مې تنقید کړ
د بل باچا په لوبو کښې

هر زورَور اووالـه
د ځان د پاره منده وه
د شل باچا په لوبو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځــــل پـــوره کومــــه ځــــان
زه هــــم کــــه باچـــا شــــومه
د غــــل باچـــا پـــه لوبـــو کښـــې

## هائیکو

غاصـــبه ســـوچ تـــه دې لګـــام ونیســـه
د ســیند دا کـــاڼې کـــه پاســـته وے چرتـــه
دا بـــه خـــوړلې ګیـــدړانو وو تـــول

## هائیکو

ښـــکاري حـــق پرســـت نـــه ئـــې
شـــل شـــل دې جـــوړ کـــړي دي
ســـم شـــلتالو نـــه وائـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائيکو

ځـــو ځلـــه مـــې مـــات شـــو د وطـــن آئـــين
الله دې نـــهٔ کـــړي چـــې چـــوري چـــوري شـــي
غټـــان غټـــان ورپکښـــې ځـــان تـــه ګـــوري

## هائيکو

کـــهٔ دې پـــه ســـوچ کښـــې جـــدت رانـــهٔ وســـتو
ســـبا بـــه زوے دے درتـــه داســـې وائـــي
بابـــا نـــو تـــهٔ اوس پـــه دې ځـــهٔ پـــوهيږے

## هائيکو

وطن رانه وران شوے ؤ د غلو پسي په منډه کښې
ځنـګ بـه رعايـه سـاتے؟ د دغـي نـه خبـر نـهٔ وم
زهٔ هـم باچـا شـوے وم د غـل باچـا پـه لوبـو کښـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

په زوړ او نوي باچا بحث کېدو
پکښې زما نه هم پوښتنه وشوه
ما وې دا دواړه د یوخرۀ غوږونه

## هائیکو

خط کښې مې جانان داسې لیکلې دي
ځان له بندوبست وکړه څۀ چل اوکړه
خلق درپسې دي نور د ي نۀ پرېږدي*
۳۰ مارچ ۲۰۲۲
( دمام سعودي عرب)

---

* د پاکستان د پخواني وزیر اعظم عمران خان د وېنا مطابق هغۀ ته د امریکې د اړخه د هغۀ د حکومت ختمولو په اړۀ د خط په ذریعه د دهمکۍ د خبر په اوربدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظمیه هائیکو

## (غدّار حاکمان)

زمونږ اصلي دشمنان دا خلق دي
څوک چې ډالر اخلي پښتون وژني
نو خدایه د هغو وزرې وسېزه

هسې دعوې د مسیحا کوي خو
مونږ له په ګرانۍ ئې څرمن وویسته
خدایه لږ د دو وزرې وسېزه

زمکه ئې پرېښودې په هوا ګرځي
ستا په شانې زۀ هم ورته قهار یمه
خدایه د مېږو وزرې وسېزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکـــه دې شـــي دغـــه ســـتړي خوشـــي ده
درد چـــې داولـــس پکښـــې بیـــان نـــۀ شـــي
خدایـــــــه د زبیرګـــــــو وزرې وســـــــېزه

راغونـــډ چـــې د پښـــتون پـــه بربـــادۍ شـــي نـــو
زۀ ئـــې پـــه الـــوت خوشـــحاله نـــۀ یمـــه
خدایـــــــه د جرګـــــــو وزرې وســـــــېزه

## هائیکو

ســـتا بـــه د نـــۀ راتلـــو بهانـــه جـــوړه شـــې
زمـــونږه ورځـــې بـــه د هـــاړ یخـــې شـــي
چرتـــه ناڅاپـــه کـــۀ بـــاران راښـــکې شـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظمیه هائیکو

## وخت

نـــۀ راځـــي پـــه بېرتـــه تېـــر ســـاعت د ژونـــد
تاپکښـــې پـــردې تېـــې وئیلـــې بـــه
ځـــان تـــه چـــې د ځـــان د وېنـــا وخـــت ؤ نـــو

قصـــه مـــې د ویجـــاړ ګلشـــن راخســـتې ده
پربـــرېدئ چـــې جـــذبې ځـــواني راپـــارې کـــړم
تېـــه شـــوم یـــه قربـــان د وېنـــا وخـــت ؤ نـــو

داســـې د غفلـــت ژونـــدون مـــې نـــۀ لګـــي
ځنـــګ مـــې د دنیـــا کاروبـــار کـــړے وے
جمـــات کښـــې د اذان د وېنـــا وخـــت ؤ نـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــا وې چـــې ضـــمير د دۀ اودۀ دے لا
الـيــاس بــه د خوارانـــو اواز پورتـــه کـــړو
خـــان تـــه چـــې د خـــان د وېنـــا وخـــت ؤ نـــو

۱۳ مئ ۲۰۱۰ بحيره عرب

## هائيکو

نـور بـه چـې لا ځـومره پـرې مازغـه بـه خـورو
هسـې هـم اختيـار د دوي پـه لاس کښې دے
ځـئ چـې د غـه غلـۀ کـړو باچاګـان د ملـک

## هائيکو

وئيـل ئـې کـۀ چرتـه تـرې څـوک پنـد واخلـي
پـوره دنيـا تـه پـه فـېس بـک ئـې ښـودل
هغـه چـې سـل روپـۍ خېـرات ورکـوؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظميه هائيکو

چــې اوازه د بــې ننګــۍ ئــې راغلــه
ورســـره زوړ تعلـــق مـــې پرېښـــودلو
پـــه يـــو هنـــدو بـــټ خپلـــه نـــۀ ورانېـــده

راه نجـــات کښـــې خلـــق نـــۀ پوهېـــده
دا ځـــل پـــه هـــر چـــا کښـــې شـــعور راغلـــے
ســـتا پـــه وحشـــت درشـــخپله نـــۀ ورانېـــده

پـــه دوه روپـــو دي خپـــل ايمـــان خـــرڅ کـــړو
کـــۀ د ضـــمير ســـودا دې نـــۀ وه کـــړے
پګـــړۍ بـــه ســـتا شـــاه خپلـــه نـــۀ ورانېـــده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې يو بل پسې لګيا يو مونږه
دے کښې ضرور به د چا ګوته وه
صفونه بې د تيله نۀ ورانېده

۲۳ جنوري ۲۰۲۳ دمام

## هائيکو

وچ په ناحقه يو بل اوزوروي
د پښتون دغه سوچ کۀ دغسی ؤ
د مخکښې تلو ګمان دې نۀ کوي بيا

## هائيکو

زما چې کار ورپکښې ونۀ شولو
پته مې ملګري ته په غوږ کښې ووې
خر مې شاهګرام د خېره وليدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

حق غوښتو له هسې هم یو کېږو نهٔ
پرېږدئ چې لږ نورې چغې ووهو
ښه ده چې بجلي په مونږه ګرانه شوه*

## هائیکو

زما دستخط باندې قانون جوړ شو
بیا چې قانون باندې عمل شروع شو
ما وې قسم دے کهٔ زما دستخط وي **

*دغه هائیکو مې د فوج ، پي ټي آئي او پي ډي ایم ترمنځه د واک اختیار د جګړې له وجې د پیدا شوي سیاسي بې ثباتۍ او اړې ګړې له امله د بجلۍ د نرخ د زیاتېدو او د غریب اولس لپاره د دغه بوج د برداشت کولو د ستونزو او د مایوسۍ د خبرونو د اورېدو او د خپل اولس د بې اتفاقۍ په حقله د احتجاج او طنز په توګه لیکلي وه

**دا هائیکو د پاکستان د اولسمشر عارف علوي د فوجي قانون او د رسمي پټ قانون په مسوده باندې د دستخط کولو نه وروسته د خپل دستخط نه د انکاري کیدو د خبر په تناظر کښې لیکلې شوي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظميه هائيکو

ستا د نظر خورو نغمو ته تاوېدمه داسې
ځنګ چې چاپېره د يوې نقطې نه
د پنسل څوکه په پرکار تاوېږي

وېمه چې کله به يو کېږي پښتون
زما په ذهن کښې تر اوسه پورې
دغه نشه دغه خمار تاوېږي

داسې څوک نشته دې چې پوهه ئې کړي
پردې واده کښې عبدالله ته ګوره
لېونې شوې دې بار بار تاوېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په مرګ باندې ډالرې اخلي
تو پک په لاس ښه په رښا ورځې
زما د مرګ پسې سرکار تاوېږي

ما ترې پخپله ؤ خامار جوړ کړے
اوس مې قسم دے کۀ ترې سترګه سوزي
دے کۀ هر څو مره لکه مار تاوېږي

لېږ د قانون په احترام خبر شه
لېږه ساه واخله غوغا څۀ له کوې
ژرنده د پلار ده څو په وار تاوېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

مینه مې کړې ده کوؤم به ئې تل
بس کۀ په دې وړې ګناه مې وژنې
راځه چې لاړ شو د مقتل په لوري

## هائیکو

دلته د قاضي په فېصلو کښې هم
قتل د انصاف کېږي پۀ جار باندې
نو دلته زلزله به په مونږ نۀ راځي؟

## هائیکو

نۀ پرې د پاسه د بنګړو به راځي
نۀ به سل پورې شي په تا لا لیه
د خپل څادر سره چې پښې غزوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

د خـــــدای د نــــامې زار شــــمه
ځــــه نــــوې شــــان خبــــره ده
پښــــتون یمــــه او ژونــــد کــــوؤم

## هائیکو

د عبــث ســوچ پــه دائــره کښــې بنــد یــو
دنیــا ســپوږمۍ کښــې ځانلــه ژونــد ګــوري
مــونږ پــه "یاګــانو" بانــدې بحــث کــوؤ

## هائیکو

د جهالـــــت رابانــــدې ختمــــه ده خــــو
د دوؤ پــــه مېــــنځ کښــــې فېصــــله کومــــه
زهٔ د رنــدو پــه ښــار کښــې کــوڼ باچــا یــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

غرض مې دا وي چې پښتون بېدار شي
زهٔ په پښتو کښې لیک ته هڅه وکړم
بس خو یاګانې دي چې نهٔ مې پرېږدي

## هائیکو

څنګه به په دغه خاوره امن شي
دلته د غریب چې حق تلفي کېده
ډېرو ورته چینګه خوله نیولې وه

## هائیکو

زهٔ ترې دا کرکه هسې نهٔ کوؤمه
د ضرب عضب په نامه ئې راله
څومره په چل چل باندې توې کړه وینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

په مائې تېل باتي سبزلي دي خپل
زۀ چې ژوندے یم دا مې نۀ وه پوره
ګني د دوي خیال کښې شهید وومه زۀ

## هائیکو

هغه چې شپږ نمبرې زده کړلے نو
بیا ئې په کور کښې په وړه خبره
خور ته د مور او پلار کنځلې وکړې

## هائیکو

حلاله ګټه کړي حرامه څانته
په پسته غوښه کښې هډوکے کېږدي
شک مې راځي د قصابانو په تول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائيکو

زمونږ به د ېري مسئلې حل شي
سوچ کښې کۀ داسې مو بدلون راغے
مونږ به اول په ځان نيوکه کوؤ

## هائيکو

راشئ! زمانه سياست زده کړئ
زۀ چې باچا وومه نو بل څۀ مې وې
اوس چې باچا نۀ يم نو څۀ څۀ وايم

## هائيکو

په دن کښې هسې ئې غوغا کوله
چينډخ په لوټه باندې نۀ شو ختے
نو دے به مونږ له کشمير څۀ وګټي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مقفىٰ هائيکو ګانې

ځان ته مې ګوته هسې نه نيوله
د خان دانې پکښې اول اوړۀ شوې
ژرنده د پلار وه خو په وار مې نۀ کړه

شومره د مينې ډک زړګې لرمه
چا چې زما سکون تاله واله کړو
زړونه هغو له هم ازار مې نۀ کړه

خپلې خبرې ورته سمې ښکاري
په نصيحت باندې به څۀ قائل شي
بې لارې شوي دي په لار مې نۀ کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګيـــا دي قـــام پـــورې ملنـــډې کـــوي
دوي د وطـــن پـــه نـــوم وطـــن وخـــوړو
دغـــه کـــم ظرفـــه پـــه قـــلار مـــې نـــۀ کـــړه

د تماشـــګيرو دکانونـــه بنـــد شـــوه
دا ځـــل د شـــر د جوړېـــدو پـــه وخـــت کښـــې
وړه خبـــره وه تکـــرار مـــې نـــۀ کـــړه

## هائيکو

دے کښـــې مالـــک تـــه ئـــې ګنـــاه نشـــته
دا پـــه وښـــو کښـــې چـــې د لـــوږې نـــه مـــرې
کـــۀ دۀ تـــه خـــر وېمـــه نـــو څنګـــه بـــه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

د خوب په نیت چې کتې ته وخېژمه
ډډې په ډډې شم خو چرته راځي
کتاب چې ګورمه تالې وهمه

## هائیکو

پردې سندا ئې صدقه کښې ورکړو
بیا ئې په لاره ډمامې وهلې
پلارمې زما په شان سخې سړے ؤ

## هائیکو

د هسې ناستې نه کار ډېر ښه وي
ما وې ورځمه څۀ کوؤم ورله خو
د خان غریب هډو بیګار نۀ ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مقفٰی هائيکو ګانې

دۀ تــــه بـــه ولـــي لاس پـــه نامـــه ودرېـــږم
دا شـــېطاني خـــوي بـــه چـــې کلـــه پرېـــږدو
دے خـــو جـــولا دے زۀ پښـــتون ســـړے يـــم

د دۀ نـــــه ښـــه يمـــه پـــه ســـل کرتـــه
د دۀ قيصـــه زمـــا يـــه شـــانې نـــۀ ده
دے خـــو فرهـــاد او زۀ مجنـــون ســـړے يـــم

د ســـمندر غونـــدې دننـــه خيـــال کښـــې
بلهـــا جـــذبې مـــې غورځنګونـــه وهـــي
زۀ کـــۀ هـــر څـــومره د ســـکون ســـړے يـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

څوک لېوني دي چې سپوږمۍ ته خېژي
زمونږ په زمکه ښه بلها روزګار دے
دلته جنګونو کښې پېسې ګټه شي

## هائیکو

زهٔ پرې خوشحاله شوم چې څه د خېره
اوس د خپل حق تپوس کولے به شي
زما پیشو چې ما ته میاؤ وکړو

## هائیکو

مینه مې کړې ده کوؤم به ئې تل
بس کهٔ په دې وړه ګناه مې وژنے
راځه چې لاړ شو د مقتل په لوري*

---

* دا هائیکو زما په اولني کتاب "شور مې د قلم په ژبه راوله" کښې په کال ۲۰۰۸ء کښې هم چاپ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظمیه هائیکو

## اصلاح

تـــهٔ کـــهٔ قـــام لـــوټې خانـــه ښـــهٔ نـــهٔ کـــوې
د ځـــان نـــه زهٔ پـــه دغـــې مطمـــئن یمـــه
فکـــر د ســـماج کومـــه نـــو ښـــه کـــوؤم

نـــن راتـــه یـــو خـــوار لیـــډر څـــهٔ داســـې وې
تـــا چـــې د خپـــل قـــام خبـــره پرېښـــوده
زهٔ کـــهٔ پـــه تـــا راج کومـــه نـــو ښـــه کـــوؤم

هـــر اړخ چـــې ګـــورم مـــارې داړې دي
ســـرکار مـــې د رشـــوت تبـــې نیـــولے دے
زهٔ ورلـــه عـــلاج کومـــه نـــو ښـــه کـــوؤم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه به شو کهٔ خپل باچا ته ووایو
تهٔ کهٔ په ما ظلم کوې بد کوې
زهٔ کهٔ احتجاج کومه نو ښه کوؤم

هغه به هر ځای پرې تنقید کولو
ځکه پرې بد لګي بوتار د غریب
زهٔ ئې خبره د مزاج کومه نو ښه کوؤم

بالخت ته چې دي ډېره لګولې ده
ستا راته کندوان د دانو ډک ښکاري
زهٔ کهٔ ځانله بیاج کومه نو ښه کوؤم

ستا نه چې ستا د غلا تپوس کومه نو
تهٔ راته وې په ګډو وډو سر شوې
زهٔ کهٔ د ځان جاج کومه نو ښه کوؤم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان دې په خپل لنګ کښې خوشحاله ساته
په ما دې خپل کلتور راسور نه کړې
زۀ په جامو کاج کومه نو ښه کوؤم

## هائیکو

مخکښې هغه نوراو اوس دا نور وائي
بس خو چې باچا پکښې زمونږه وي
خېر کۀ یو لیټر پیټرول د زرو شي

## هائیکو

ځان کۀ څۀ مرام ته رسول غواړئ
چرته د شپېتۆ نه پس ئې پرې نه ږدئ
ژوند ګورے تر مرګه پورې منده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزلیه هائیکو

دغـــه کـــار د شملـــه ورو ســـره بنـــه ؤ
وس کـم ظرفــو لــه پــه لاس بانــدې ورغلــې
د دروغـــو سیاســت ســړے خـــفه کـــړي

احمدشـاه بـه مـې پـه خـاوره بیـا پیـدا شـي
ټپوســانو کښـې د بـاز خویونـه ګـورم
دا ګمـان دغـه فطـرت ســړے خفـه کـړي

دنیــادارو عجیــبه نظــام جــوړ کــړے
د ګګــو پکښـې کاګـه کارونـه سـم شـي
نېغـه لار د صداقــت ســړے خـــفه کـــړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې انصاف چرته په دوه روپۍ خرڅیږي
چې ملزم پکښې بري شي بې دلیله
دا قاضي دا عدالت سړے خفه کړي

مخامخ شي دواړه یو بل ته په لار کښې
یو خوا منده د دنیا هم ضروري ده
بل خوا سوچ د اخرت سړے خفه کړي

د یو بل سره ولاړ به وو په غم کښې
رواجونه په اوبهٔ لاړه لاهو شوه
بې خوندي شوه قباحت سړے خفه کړي

په وطن کښې د روزګار دومره کمے شو
د ډوډۍ د پاره خلقو بچي خرڅ کړل
تنګدستي دغه غربت سړے خفه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ریــا او تکبــر پــه ســوچ کښــې غــرق ئــې
دغــه خــېر خــو دا بــه نــهٔ کــوې ګــناه ده
ملاجــانه ستــا بدعــت ســړے خفــه کــړي

سادګـــي وه د یـــو بـــل نـــه ځـــاربده وو
اوس د نـــوي دور نـــوې تقـــاضې شـــوې
ژوندانــه کښــې دا جــدت ســړے خفــه کــړي

زړهٔ مــې غــواړي چــې دا یــو نــیم بــرابــر کــړم
بــس خــو مخــې لــه چــې راشــې پــهٔ خنــدا شــم
کـــــله کلـــــه شرافـــت ســـړے خفـــه کـــړي

ګړنګونــو نــه ارتــاؤ شــي پــه اعتــبار کښــې
چـــې ملـــګري دې مخلـــص درســـره نـــهٔ وو
کاروبـــار کښـــې شراکـــت ســـړے خـــفه کـــړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کېلو د ملک مثال شي راته مخکښې
اګري نګري ته قانون ويئلي کيږي
دا بې ډنګه رياست سړے خفه کړي

فارمي چرګان د زرو نه په بره
د پيټرولو نرخ د درې سوه د پاڅه
ستونځې دا د معيشت سړے خفه کړي

نور قومونو خو سپوږمۍ ته پرواز وکړو
پښتانۀ يو ورځ ته ورځه مخ په ښکته
دا تياره دغه ظلمت سړے خفه کړي

ما وې زړونه به يو بل ته دا ځل تش کړو
ايله راغلي دومره زر ولې روان شوې
ستا تادي دغه عجلت سړے خفه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوتـــې بـــوتې کـــۀ مـــې وېلـــې زۀ بـــه ښـــه وم
پـــه شـــعرونو کښـــې هـــم ښـــه نـــۀ ده چـــې وايـــم
ســـپينې ســـپينې حقيقـــت ســـړے خفـــه کـــړي

پـــه جـــار بانـــدې چـــې ســـپينې ســـپينې وائـــي
يارانـــه ئـــې تنهـــائۍ ســـره شـــروع شـــي
حـــق ګـــوئي او صـــداقت ســـړے خفـــه کـــړي

زۀ اليـــاس د تجـــربـــې پـــه بنيـــاد وايـــم
د انســـان جامـــه کښـــې پـــلار د ابلـــيس پـــټ وي
د دې بعضـــو قـــد قامـــت ســـړے خـــفه کـــړي

(دمام سعودي عرب)
۲۲ ستمبر ۲۰۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائيکو

چې د اسلام په نوم ووتونه اخلي
د دوي قيصه راته څۀ داسې ښکاري
لکه پيشو چې مږه خدا ے له نيسي

## هائيکو

صدارتي اېوارډ که رائې نۀ کړو
زما نه دا طمع دي نۀ ساتي بيا
چې زۀ به هم د دوي صفت وکړمه

## هائيکو

چې د خپل وران وطن په حال ژړېږم
ما ته واکدار د وطن داسې وائي
هسې مکرے د ځانه مه جوړوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائيکو

تېر شوې وخت په بېرته چرته راځي
څکه تمامه ورځ فېس بک ته ناست يو
ليکو يو بل ته ماشاءالله په تصوير

## هائيکو

هسې چې ښه وکړه کۀ بد مې وکړه
دا چې د پلار نه مشر مشر کېدو
د پلار د مخې مې راباندې کړۀ پرې

## هائيکو

لږه شان قبصه ئې ماته هم وکړه
ويمه چې دا زۀ هم داسې درشمه
څنګ چې تۀ مې پټ زړۀ ته راغلے وے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظمیه هائیکو

## پلاننګ

په عالمي سطح خبرې کېدې
پښتانهٔ ولې بې روزګاره ګرځي
راځئ چې دوي له هم څهٔ کار وکورو

مونږ له د مخکښې نه حساب پکار دے
د يو په سر به څو ډالرې اخلي
راځئ چې نيت ئې د سرکار وګورو

ورته به لاړ شو خپل غرض له پکښې
دنيا ته به وايو ترهه ګر دي پکښې
په دې بهانه به قندهار وګورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځان وژنه شهادت وګڼي نو
خبر کۀ ملا پکښې پېسې وګټي
دې له به هم پکښې کردار وګورو

مونږ له پکار ده چې تادي پرې وکړو
د دې نه وړاندې چې راويښ شي خلق
بم دزېدو له چې نوښار وګورو

په دغه بحث کښې يو داسې اووې
زمونږ کارونه به دا هله کېږي
دوي له باچا چې حوالدار وګورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظميه هائيکو

## تاسو چرته وئ

بيا مې عزرائيل په خوا راتېر شولو
ورشئ لږ خواخوږو ته مې اووائئ
رنګ مې زيړېدلو تاسو چرته وئ

يوه ګيله مې درنه ډېره کېږي
د قام په نوم باندې ښاغلې خلقو
ښار چې ورانېدلو تاسو چرته وئ

مکتب ته څنګه ترهه ګر ننوتو
ټوپک په لاس څوکېدارنو وائئ
بم چې ډزېدلو تاسو چرته وئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يــــو ځلـــــې ورغـــــلے مــــېخانې تـــــه ؤ
يــــو ځلــــې ئـــې ســـرې ستـرګې لـــيدلې وې
اليـــاس چـــې ځنګېـــدلو تاســـو چرتـــه وئ

## هائيکو

دا مــــې ورتــــه ډېــــر د زړۀ نـــه وئيلــــې وو
مــــا بـــه اشـــنا کـــړے وې د خيـــال ســـره
لـــږ کـــۀ مـــې فکرونـــو تـــه راغلـــې وې

## هائيکو

پــــه مـــا دي سخـــا ټماټـــر مـــۀ خرڅـــوه
ستـــا نـــاروا تـــــه روا ځـنګـــه ووايـــم
د پـــلار کنـډر کښـــې خـــو دي نـۀ يمـــه ناســـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

زۀ چې پښتنو ته داسې وایمه
پاڅئ! د خپل حق د پاره ودرېږئ
دا جوړ دېوالونو ته لګیا یمه

## هائیکو

په دے منطق د دنیا پوهه نۀ شوم
زۀ چې د لوږې مړ کېدمه کله
سر ته مې ولې پراتې پخېدې

## هائیکو

د پېـي ډې ایم چې حکومت تېر شو
راته په لار کښې یو بابا وئیله
بلا وه لویه برکت ئې نۀ ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظميه هائيکو

ټيک ده چې محنت ورسره کومه خو
چرته چا ملنګ به دعا کړې وه
فقير وم د شاهانو تخت مې وليدو

د ژوند د ونې تنه هم ډېره شوه
ما د انتظار په ګهړۍ زده کړله
ورو ورو تېرېدلو وخت مې وليدو

دا د ژوند قيصه هم عجيبه شان ده
ډېر دي چې په خپل اقبال خوشحاله وو
ژاړي په سرو سترګو بخت مې وليدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



طــــور طریقـــې پـــه تنـــدر مـــۀ اولــــه
نـــن مـــې د یـــو چـــا د خـــولې نـــه واؤریـــده
خدایـــه ثـــۀ بـــې وختـــه تخـــت مـــې ولیـــدو

## مقفٰی هائیکو ګانې

یـــو خـــوا مفـــاداتو تـــه مـــې ګورمــــه
بـــل خـــوا انقـــلاب پـــه خـــاوره غوارمـــه
ثـــۀ د احمقـــانو پـــه جنـــت کښـــې یـــم

اوس ئـــې هـــم پـــه ســـترګو بـــدي لګـــمه
یـــو ځلـــې مـــې خـــان تـــه داســـې وئیلـــې وو
زۀ بـــه همېشـــه داســـې غربـــت کښـــې یـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

خلقو وېله خپل مطلب پرې بار که
ما وې د دۀ مینه خو لته وې نو
خرۇ په دغه وجه یار مې نۀ کړو

## هائیکو

د نۀ سړي بچې به نۀ وېم ورته
خو چې وطن بدحاله وینمه نو
وېمه چې بل بل څۀ مې ووې ورته

## هائیکو

وېمه چې بدو ته ئې بد وویمه خو
چرته خواخوږو له مې زیان ورنکړي
دغه تلوسې مې لاره ونیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه خوارۀ وختونه چرته لاړه
## (مسلسل هائیکو)

چې به زما سره په ښکلا ګرځېدې
په هر اړخ به مې په نښکا ګرځېدې
هغه خوارۀ وختونه چرته لاړه

چې د یو بل نه زارېدو به پکښې
چې بېلېدو نو ژړېدو به پکښې
هغه خوارۀ وختونه چرته لاړه

هغه د نیمې نیمې شپې خبرې
خوږې خوږې، پستې پستې خبرې
هغه خوارۀ وختونه چرته لاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغـــه چـــې تـــا بـــه ماتـــه وېلـــه اشـــنا
خـــدا ے دې زمـــا نـــه مـــۀ کـــړه بېلـــه اشـــنا
هغـــــه خـــــوارۀ وختونـــــه چرتـــــه لاړه

قســـم پـــه خـــدا ے رانـــه بـــه هېـــرې نـــۀ شـــي
بغېـــر لـــه تانـــه بـــې مـــې تېـــرې نـــۀ شـــي
هغـــــه خـــــوارۀ وختونـــــه چرتـــــه لاړه

چـــې کلـــه کلـــه بـــه ښـــېرې دې وکـــړې
یـــا بـــه پـــه ورۀ کښـــې اشـــارې دې وکـــړې
هغـــــه خـــــوارۀ وختونـــــه چرتـــــه لاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزليه هائيکو

پوهــه يــو خــو بيـا هــم پوهــه نــۀ شــولو
يــو بـل مــو پــه يــو بـل باندې مـړۀ کړلـو
اوس هــم دا بـې خونــده قېصــې اورمـــه

ورور ورلـــه شــرعي حقونـــه نـــۀ منـــل
خــور د ورور د پـاره پــه سـوَره کښې تلــه
څــو بــه دا بــد رنګـــه قېصـــې اورمـــه

خــدا ے خــو دې متــره زمــا پــه خـاوره کـړه
دا ځلــې بــه څــۀ درلــه بهانـــه ګـــوري
ســـتا د نـــامې جنګـــه قېصـــې اورمـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنيا د پرمختګ په لار روانه ده
زما پکښې سبا هم په تياره کښې د ے
خدا ے خبر دا څنګه قيصې اورمه

شا به کړه څه بله قبصه وکړه نو
نن ئې څۀ په ډېره مينه ووئيل
الياسه ستا ملنګه قبصې اورمه

## هائيکو

ښکاري چې دواړه د يوے پارټۍ وو
يو بل ته خا مخا خبرو کښې به
مونږه حاجي صېب هسې نۀ وئيلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

پړکېده هسې هم نه نهٔ دي خو
چې مور ئې نهٔ وي د دعا د پاره
الله دې نه کړي چې راګېر شي سړے

## هائیکو

ستا د نظر خورو نغمو ته تاوېدمه داسې
څنګ چې چاپېره د یوې نقطې نه
د پنسل څوکه په پرکار تاوېږي*

## هائیکو

زهٔ به ئې څنګ په څنګ کښې څهٔ اودرېږم ؟
نامه ئې هم یو ځاے لیکلې نهٔ شم
د فلسطین نه راته ګران دے فېس بک**

---

* په فلسطین چې کله په ۲۰۳۳ کښې جنګ شروع شو نو ما ولیدل چې اکثر خلقو به په فېسبک باندې فلسطین یو ځاے نهٔ لیکلو د دې وجې چې چرته د فېسبک اکاؤنټ ئې بند نهٔ شي،فلسطین به ئې جدا جدا (ف ل س ط ي ن) لیکلو ۔دغه هائیکو کښې د مسلمانانو کمزورۍ طرف ته اشاره هم ده او طنز هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزليه هائيکو

سم د رنګونو تماشې جوړې شي
په ژبه هم زما سپرلې غوندې شي
چې ستا غزل غزل ځواني ياده کړم

ما ته راياد شي د ګنجي نوکونه
ځينې کم ظرفه چې خوانده ووينم
د دير نوابه! ستا خاني ياده کړم

وېمه چې نۀ تلې د پردي وطن نه
مسافرۍ ته مې زړۀ بېرته روغ شي
په خپل وطن کښې چې ګراني ياده کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبث مې لاس ګرېوان ته مهٔ اچوه
کهٔ دې زما سره ډغره راغله
تا ته به هله ستا ناني یاده کړم

## هائیکو

ما ورته یو څل په ګپ کښې وئیلې وو
څو پورې به ستا د کور کارونه کوم
اوس هم د خان جې راسره ورانه ده

## هائیکو

د پېغمبر راتلو قیصه ختمه کړه
دې ته به هم خلقو غېرت وئیلو
پخوا چې لونه به ژوندۍ ښخېدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

نـــن رالـــــه د زړۀ تـارونــــه مـــۀ چـېـــړئ
نـــن مـــې زړۀ ریښـــتیا ســـلګو نیـــولے دے
کــــډې د جـانــــان کـابـــل تـــه لاړلــــې

## هائیکو

ډېـــر حکایـــات ئـــې تـــاؤ راتـــاؤ کـــړه ورتـــه
مـــــلا وې دا مــــــړے ولــــــي ســــــړے ؤ
مـــا وې تپـــوس اوکـــړئ مالـــدار خـــو نـــۀ ؤ

## هائیکو

درلـــه بـــه کـــار ګـــوري مصروفـــه بـــه ئـــې
ژونـــد کښـــې د بـــل دشـــمن حاجـــت بـــه نـــۀ وي
د تـــــرۀ بچـــــے کـــۀ دې تربـــــور وختـــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائيکو

سم ورته ځان قورقلا خان ښکاره شي
دے بيا د نۀ سړي کارونه کوي
پګړۍ په سر چې نه کړئ نۀ سړي ته

## هائيکو

چې لاس او پښې وهې نو خورے به ډوډۍ
او کنه تۀ وې چې قسمت خراب دے
بيا کۀ د لوږے نه مړ کېږے ښه ده

## هائيکو

ساده يم د يوے لارے سړے يمه
زما جوړ دوه مخيز خبري زدۀ نۀ دي
ځکه په ټولنه کښې يو اځے يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هائيکو ګانې
# روحاني او جسماني علاج

خوراک دې کم کړه ګرځېدۀ شروع کړه
کۀ پۀ وجود کښې دې غټ والې راغے
پکار ده چې ډېر د خوړو نه اوکړې

د وينې جوش سېوا کوي مالګه
بل کۀ د زړۀ مرض دې هم وي چرته
پکار ده چې ډېر د غوړو نه وکړے

د زړۀ نه خيرې لر کول به غواړې
کۀ پۀ ژوندون کښې خوشحالياني غواړې
پکار ده چې ډېر د کينو نه وکړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزليه هائيکو

زمونږ باچا ته امريکې وئيله
داخل د نوي جنګ د پاره مونږ له
ساده باده پښتون سماج پکار دے

دۀ ورله ډېرې ناروا کړې دي
حق ئې جوړېږي کۀ اوس داسې وائي
د زور عزيز سر له مې تاج پکار دې

په رڼا ورځ مو بې ګناه وژني
د دغه جبر خلاف څۀ وائې تۀ
زما په خيال خو احتجاج پکار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــهٔ د وجـــود رنځـــوري وي نـــو وي دې
خـــو چـــې تولـــنې لـــه ناســـور جـــوړېږي
د اخلاقـــي رنځـــور عـــلاج پکـــار دے

چـې د یـو بـل نـه پکښـې ځـار شـي سـړے
چـــې د یـــو بـــل ســـره ښـــېګړه وشـــي
غـــم او ښـــادي داســـې رواج پکـــار دے

چـــرته مـــلا رانـــه دهوکـــه دي نـــهٔ کـــړي
د خـــوند نـــه ډک ژونـــد تېرولـــو لـــره
الیـــاسه رنګـــین شـــانې مـــزاج پکـــار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

د پرتګال په سمندر راتېر شو
واسکوډې ګاما هندوستان پېدا کړو
مونږه چې کور ته ځو خطا کړو لاره

## هائیکو

چې څۀ کړي هغه به ریبي دا ئې نه منله
بد عملۍ کښې غریب سر وخوړو
د نیوټن دربمه قیصه تېک وخته

## هائیکو

ژوند کښې تجربه بلها معنې لري
نن کۀ د حکمت خبرې کومه نو
دغه مې د وخت نه زدۀ کړه کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

دا چې د بل په خوشحالۍ سوزي
زۀ ورته ګوته په خولۀ ځکه یمه
تر اوسه څنګه ایره شوې نۀ دي

## هائیکو

په نیمه شپه کښې چې مرام ته تلمه
تلي پېرونه به مې ځکه کتل
ستوري په شپه کښې لار ښودنه کوي *

---

* یادګېرنه: د جغرافیې په لحاظ قطبي ستورے (Polaris) شمال اړخ ته وي. کۀ مونږ دغه قطبي ستوري (Polaris) ته مخ کړو نو زمونږ ښئ اړخ به نمر ختیز ،کیڼ اړخ نمر پرېوتیز او شاته به د جنوب اړخ وي. باقي د قطبي ستوري پېژندګلو د تلي پېرونه (دب اکبر) نه ښۀ په اسانه کېدې شي. په انګرېزۍ ژبه کښې ورته Ursa Major وائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائيکو

يو خوا مې خپل خاکساره خوي ته کتل
بل خوا مې ستا غرور ته خيال لاړې
څومره په چل چل کښې طوفان جوړ شو

## هائيکو

په سمندر کښې د سفر په محال
کۀ چرته اوليدے شي توري مرغۍ
پوهه شه مخکښې به موسم خراب وي

## هائيکو

تا تري تنور له ډکې څنګه مات کړه
پتې ته شپول په دې غرض وهمه
چې ځناور پرې بلوڅه نۀ شي کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هائیکو ګانې

د غمـــــازانو دې خـــــدا ے زړۀ وچـــــوي
دا مـــو د یـــو بـــل ســـره مینـــه بـــه وه
چـــې پـــه یـــو بـــل مـــو ننـــواتې وکـــړه

جـــور حیاناکـــه پښـــتنه بـــه وومـــه
چـــې د میرګـــاټو او ګاټـــا نـــه واخلـــه
پـــه کـــور دننـــه مـــې شـــلغاتې وکـــړه

هســـې مـــې ســـتا شـــیخۍ تـــه ګوتـــه نیـــوه
مـــونږه د وخـــت هغـــه پـــه وخـــت ونـــۀ کـــړه
تـــا ټـــول قضـــا مونځونـــه پـــاتې وکـــړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزلیه هائیکو

ښه ورته پته ده چې مرمه پسې
بیا هم خبرې د بیلتون ئې وکړې
هغه زما د حاله نۀ ؤ خبر

د رنګه تور دے او وړوکې هم دے
لکه د ستوري ئې ځلا کوله
هغه په مخ د خاله نۀ ؤ خبر

ما وې چې تل مې اوریدلي خدایه
خوږو خبرو ئې تالې راکړې
ښنګه د سر او تاله نۀ ؤ خبر

زما په شان ساده باده غوندې ؤ
خلق لکۍ ورپورې ولې تړي
هغه د قیل او قاله نۀ ؤ خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ئې په ډېرو اسوېلو کښې ووې
ستا په قسمت کښې ولي نۀ وومه زۀ
هغه د دغې سواله نۀ ؤ خبر

زما په مینه کښې لېواله دومره
وې ئې چې دا مې صدقه کړه پسې
هغه د سر او ماله نۀ ؤ خبر

هغه زما پسې لېواله داسې
چې اوس پرهېز او دواهم نۀ کوي
ښکاري د پال او فاله نۀ ؤ خبر

چې محبت کښې تاؤ تریخوالې راشي
زړۀ ته نزدې د سر سودا شروع کړي
هغه د دې وباله نۀ ؤ خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـــا نـــه ولـــې ئـــې نفـــرت کـــولو
د کائيناتـــــو مصـــــوّر جـــــوړکړم
هغـــــه د دې جمالــــــه نـــــۀ ؤ خبــــــر

پـــه بخـــت ئـــې هســـې بدګمـــانه بـــه ؤ
زۀ ئـــې ريښـــتيا د زړۀ ســـلطان جـــوړېږم
هغـــــه د خــــپل اقبالـــــه نـــــۀ ؤ خبــــــر

پښـــتانه اقـــدار مـــې دومـــره اســـلامي وو
د حيـــــا او غيـــــرت دواړو ترجــــــمان وې
هغـــــه پـــه ســـر د شـــاله نـــۀ ؤ خبــــــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائيکو

يو خوا مې خپل خاکساره خوي ته کتل
بل خوا مې ستا غرور ته خيال لاړې
څومره په چل چل کښې طوفان جوړ شو

## هائيکو

زۀ به هم پوهه شمه ستا سره خو
په وړوکوالي کښې به داسې مو وېل
زمونږ د کور خوا ته راځې به کۀ نۀ

## هائيکو

وېل ئې دا بيا مو څۀ غوبل جوړ کړے
حاجي صېب هسې قهار بدلو راته
مونږ په رېښتيا باندې غوبل کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

څمه چې زر زر ئې فېس بک له ورکړم
په دې غرض چې نمائیش ئې وشي
هغه کعبه کښې تصویر دې له ویستو

## هائیکو

زما او ستا ورپکښې شر دې وشې
چې ورورولي او اتفاق جوړوي
په کلي کلي کښې اشر دې وشي

## هائیکو

ناولے کار دے بدګمانه نۀ شے
کۀ د مړ رور غوښې خوړل غواړے
زما په سر چا ته خبري وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزليه هائيکو

څـه بـه ئـې کـړې پـه لـويه مرتبـه بانـدې
زمـا د وکالـت پـه وخـت ئـې وګـوره
ټيـک ده چـې ښـاغلې دې خـو غلـې دې

څـه رنګـې دنيـا تـه دهشـت ګـرد ښـکارې
فکـر امـن خـوښې او پښتـون زمـا
خدايـه څـومره ښـکلې دې خـو غلـې دې

ځـمه چـې دنيـا ټولـه خبـر کـړمه
سـوچ د پښتنـو د ترقـۍ مـې بيـا
ذهـن تـه راغلـې دې خـو غلـې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا به چرته کار د مصلحت اخلي
يا جوړې سرکوزې غږ کوې نه شي
لار کښې مې رټلے دے خو غلے دے

ځکه خو ولاړ دے په سکون باندي
ښکاري چې بيمه د دوؤ اړخو دے
موټر ئې جنګېدلے دے خو غلے دے

پکار ده چې په ځان باندې لږ ننګ وکړي
الياس پکښې ځان ولې مختورن کړمه
کور ئې نړېدلے دے خو غلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احتیاط - سېفټي

د سعودي ارامکو د ټولو نه لوي ماډیول ټرانسپورټېشن کنبې د کنسلټنټ په توګه چې کله ما په دغه پراجیکټ کنبې د ملټي نیشنل کمپنیانو کارکوونکو ته د دغې بلا د ټرانسپورټېشن نه مخکنبې د center of gravity او دهغې د یو ځاے نه بل ځاے ته د بدلون او د هغې سره د تړلي ناڅاپي حادثاتو او د دغه حادثو نه د ځان بچ ساتلو په حقله خبرې کولې نو یو دوه کسانو راته حېران حېران کتل. ما چې خپلې خبرې ختمې کړې نو په پښتو کنبې مې ترې تپوس وکړو چې د کوم ځاے ئې؟ دواړه په خندا شول یو بل ته ئې ووې چې دے خو هم پښتون دے هلکه بیا ئې ووئیل چې ستا په انګریزۍ پوهه نۀ شو. ما ورته ووې کار کنبې به د ځان خیال څنګه ساتئ دغه ټاپک باندې لګیا وم.

د هغو سره په خبرو خبرو کنبې مې ذهن وتښښېدو او دغه درې هائیکوګانې مې ولیکلې او بیا مې ورته واؤرولې. کسانو چې هائیکوګانې واؤرېدې نو"واه واه" ئې هم وکړه او ډېر خوشحاله شول. وئیل ئې مړه په دې سیفټي خو پوهېږو.

۶ دسمبر ۲۰۲۳ جفوره سعودي عرب

## هائیکو

بې احتیاطۍ سره د کار په وخت کنبې
کۀ تاسو چرته څوک مزدور ولیدو
د کار نه ئې منع کړئ د خداے د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

لکـــه د مـــچ بـــه بیـــا منګـــولې مـــروړئ
ضـــروري نـــۀ ده چـــې کامیـــاب شـــئ هـــر ځـــل
د چـــانس نـــه ښـــه ده چـــې احتیـــاط وکـــړئ

۶ دسمبر ۲۰۲۳   جفوره سعودي عرب

## هائیکو

کـــار کښـــې د احتیـــاط قـــانون ئـــې نـــۀ منـــي
ځـــان اســـانۍ لـــه چـــې خـــوک داســـې وائـــي
هـــر څـــۀ بـــه زر وشـــي ډېـــر ښـــه چـــانس دے

۶ دسمبر ۲۰۲۳   جفوره سعودي عرب

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړې

د غــرۀ لمــن کښــې سـم پـه شـور بلېـږي
ورتــه حېـران شـوم کـور پـه کـور ورېـږي
مــا وې لــوګـے د ے چرتـــه اور بلېـــږې

هســې نــه ډوب چرتــه پــه شــرم شــمه
لکـــه د مـــوم پـــه شـــانې نـــرم شـــمه
مـــا وې ورځـــم ورتـــه چـــې ګـــرم شـــمه

خـــو نـــۀ لمبـــې نـــۀ غرغنـــډې وې پکښـــې
نـــۀ د بڅرکـــو شـــان ذرې وې پکښـــې
او نـــۀ څکروټـــې تکـــې ســـرې وې پکښـــې

مـــا وې دا غرونـــه ســـتر شـــوې دي
يـــا دا خوړونـــه ســـتر شـــوې دي
کنـــه ســـيندونه ســـتر شـــوې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې د تلو لورې ژورې وې
یو مې د پښو تنهاکې سترې وې
بل خوا شلېدلې مې چپړې وې

ګنې ما وې چې مخکښې څۀ دي ورځم
ډېر دي کۀ لږ، خراب او ښۀ دي ورځم
کاږه دي نېغ او کۀ اوږده دي ورځم

خو چې نزدې شوم ورته خړې وې
تیار لوګې ؤ سم لوخړې وې
په چاپېرچل ماحول کښې لړې وې*

* دا مسلسل هائیکو زما په کتاب "شور مې د قلم په ژبه راوله" کښې په کال ۲۰۰۸ء کښې هم چاپ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزليه هائيکو

مونږه د جنګ حالات کښې ژوند کړے دے
د محبت قيصې مې يادې نۀ دي
درمان به څۀ جانان به څۀ ياد کړمه

چې تازه کېږي ورځ تر ورځه پکښې
د خوار اولس د غم پرهر په زړګي
سپرلے به څۀ خزان به څۀ ياد کړمه

چې خوار غريب پکښې بې برخې وينم
چې پښتانۀ پکښې لوټ کېږي زما
دا د سيالۍ تالان به څۀ ياد کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــا وي ظـــالم تـــه بندوؤمـــه لاري
خپـــل اقتـــدار لـــره موسٰـــی مـــې وژنـــي
د وخـــت فرعـــون هامـــان بـــه څـــۀ یـــاد کړمـــه

د غیـــرو خونـــه ورانـــولي نـــۀ شـــي
زمـــونږه زمکـــه ئـــې ښـــېرازه نـــۀ کـــړه
ســـیلۍ بـــه څـــۀ بـــاران بـــه څـــۀ یـــاد کړمـــه

چـــې د غریـــب د ســـر نـــه ســـپورے اخلـــي
پرېـــوتې نـــۀ شـــي د ظـــالم پـــه ســـرنو
تنـــدر بـــه څـــۀ اســـمان بـــه څـــۀ یـــاد کړمـــه

نـۀ مـې پـه کـور کښـې خلـق ژونـد تـه پرېږدي
نـــۀ تـــګ کـــولے شـــم د خپلـــې مرضـــۍ
منـــزل بـــه څـــۀ کـــاروان بـــه څـــۀ یـــاد کړمـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دهٔ په لمسه د جنت نه بهر
د دهٔ د وجې بندیزونه په مونږ
ابلیس به څهٔ شیطان به څهٔ یاد کړمه

داسې به هله وي کهٔ امن وي نو
د غرهٔ په سر په زوره زوره باندې
ټپه کښې یه قربان به څهٔ یاد کړمه

د ځان ځانۍ په دغه ګران ژوند کښې
د ځان د پاره سم په منډه یمه
ځان رانه هېر شو ځان به څهٔ یاد کړمه

چې په ظاهره فرشتې ښکاري
د دغه خلقو په کردار مې شک دے
داسې کم بخت نېکان به څهٔ یاد کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي چې سندرې اوس د نورو وائي
دوي چې روان دي اوس د نورو پسې
پښتون به څۀ افغان به څۀ یاد کړمه

عجیبه نۀ ده چې ګیلې کوي اوس
چې په الیاس ئې تنګ کولے نۀ شو
زۀ ورله قد او شان به څۀ یاد کړمه

د دمام نه جدې ته په هوائي جهاز کښې
۲۶ دسمبر ۲۰۲۳ء

## هائیکو

وختي وختي به پاڅېدمه ځکه
زما په ذهن به دېر بنه لګېده
سحر سحر کښې د مرغو چغېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې هائیکو ګانې


په احتجاج کښې د ګرانۍ خلاف
ګډون مې نه کوو په دغه وجه
زما پارټي په اقتدار کښې وه نو

پردے مزدور یمه دا ځکه ځمه
زه به ډیوټۍ له په وخت ولې تلمه
که نوکري مې په سرکار کښې وه نو

نه په راتلو کښې ئې پوښتنه اوکړه
نه ئې په تلو کښې وې چې لاړمه زه
هغه څه ډېره په تلوار کښې وه نو

(c) ketabton.com: The Digital Library





Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library